**د فلسطین په پاکه خاوره کې د ناوړه دسیسو په اړه د حزب التحریر له لوري د ترسره شوي ټولیز لاریون د وینا متن**

**(ژباړه)**

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول ثنا او صفت د الله سبحانه وتعالی دي چې فرمایي:

**﴿إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ * وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾** [اشوري: ۴۲-۴۳]

ژباړه: *هغو کسانو ته جزا شته چې پر خلکو ظلم کوي او د حق په نوم پر ځمکه ظلم روا بولي. د هغوی لپاره دردونکی عذاب دی؛ خو که څوک عفوه وکړي، دا کار له ارزښته ډک دی.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجه الوداع کې خلکو ته پخبرو کې وویل:

**«فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا كَحُرْمَةِ شَهْرِكُمْ هَذَا كَحُرْمَةِ بَلَدِكُمْ هَذَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ، لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّاراً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»** (مستبرک)

**ژباړه:** *ستاسو شتمني، ابرو او د بېلابېلو پوستکو درلودونکي خلک د نن ورځې غوندې په دغه میاشت او هېواد کې سپڅلي دي. نو حاضرین دي غایبینو ته خبر ورکړي چې له ما وروسته کفر غوره نه کړي او پخپلو کې نښکېل نه شي.*

**په خلیل الرحمن ښار کې خلکو ته:**

دغه سپڅلی ښار اوسمهال د ډار په یوه کړۍ کې راګیر دی، هغه ډار چې په انفرادي ډول او یا د داسې کسانو له لوري راولړل شوی چې له الله سبحانه وتعالی څخه نه ډارېږي او د مسلمانانو د وینې توییدنې مخنیوي په بدل کې هېڅ نه کوي.

دوی پر متقابل درناوي تېری کوي او ټینګې شوې اړیکې سره بېلوي. دوی د پلار او زوی، مور او زوی، د کور د نجونو، خوندینو او مور او همدارنګه د نورو تر منځ د اړیکو خرابېدو اور بلوي، الله سبحانه وتعالي فرمايي:

**﴿فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ * أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ﴾** [محمد: له ٢٢-٢٣]

ژباړه: *که له دغه فرمان سرغړونه وکړئ، نو تمه کېږي چې په ځمکه کې به فساد وکړئ او له دوستانو سره به مو اړیکې پرې شي. هغوی هغه کسان دي چې الله سبحانه وتعالی له خپل رحمت څخه لېرې کړي، غوږونه يې کاڼه کړي او سترګې يې ړندې کړې دي.*

**په خلیل الرحمن ښار کې خلکو ته:**

مورږ نن ورځ له تاسو سره درېږو، څو دا کچه او میزان سم شي او د دوی رښتیا ووینو. همدارنګه له تاسو سره یوځای دا دریځ غوره کوو چې الله سبحانه وتعالی ساتونکی دی او له مورږ څخه د شیاطینو زیان لېرې کړي. هغه پوښتنه چې باید ځواب ورته ووېل شي، د فلسطین چارواکو او د دوی د نظامي وسایلو په اړه ده چې دوی د دغې سیمې د بې نظمۍ له منځه وړلو لپاره جدي دي او که دوی پخپله د دغو جرمونو برابرېدو لپاره زمینه برابروي؟

د فلسطین واکمنۍ د سوزولو او فیر کولو فعالیت پرېښود، پر دې سربېره چې د هغوی د مخنیوي وړتیا يې درلوده. دې څه یوازې پر دې بسنه وکړه چې خلکو ته نصحت وکړي او هغوی يې پر دې پر غور کولو بوخت کړل چې دا د پېښو د مخنیوي لپاره هڅې دي.

هغه کسان چې ډزې یې کړې او کورونو، هټیو، او موټرونو ته یې اور ورته کړی، په نومونو او د اوسېدو له ځایونو سره یوځای خلکو ته معلوم دي او همدارنګه امنیتي بنسټونه او د هغوی استخبارات یاد کسان ښه پېژني. نو څنګه دوی همداسې پرښودل شوي، نه دي نیول شوي؛ که دوی ونیول هم شي، له څو ورځو وروسته بیرته خوشې کېږي.

خو پر ځای یې ډېری دغه یرغلګر ګناهکاران یا د فلسطین واکمنان دي او یا د هغوی په جامه کسان کې دي. نو ایا دغه کسان د وروستیو پېښو په تړاو وضاحت ورکولی شي؟!

که د فلسطین واکمني د دغو جرمونو په درېدو چې جدي وي، نو اصلي مجرمین او تیري کوونکي دې وځاري، یعنې هغه کسان چې اشغالګرو ته د ظلم کولو زمینه برابروي. دوی اوس هم د هغو کسانو تر شاه دي چې وسلې لېږدوي او د یهودیانو پر وړاندې یې کاروي. که څوک غرنۍ سیمې ته ولاړ هم شي، هلته یې هم ځاري.

د فلسطین چارواکي او د هغوی امنیتي بنسټونه دا وسله نهویني چې د خلکو امنیت، ژوند او شتمني ګواښي. په داسې حال کې، هغه وسلې چې د یهودیانو پر وړاندې کارول کېږي، ګورو چې هغوی د خپلو سرچینو پیدا کېدو په لټه کې دي، څو ناوړه ګټه ترې واخلي. څوک چې دا څه لېږدوي، ایا د دې څه لپاره وضاحت ورکولی شي؟

د فلسطین واکمني نن ورځ له تاسو سره دوکه کوي، ځکه جنایتکاران د هغوی تر نظر لاندې کار کوي او د دغو جنایتونو نه مخنیوی د دې لامل کېږي چې د هر کور په ویجاړېدو او د خلکو شتمنیو ته په زیان رسولو کې شریک شي.

**اې خلکو:** د فلسطین د واکمنۍ او تشکیلاتو ډېره بودجه د امنیتي خدمتونو لپاره وي، هغه بودجه چې د خلکو حالت ته له کتو پرته ټاکل شوې او دې مالیې د خلکو ژوند ډېر اغېزمن کړی دی. یاده مالیه د کاله څلور میلیارده ډالرو ته رسېږي.

خو په بدل کې دغه واکمني د خلکو امنیت نه شي خوندي کولی، هغوی ته په هر ډول خدمتونو وړاندې کولو کې پاتې راغلې ده. ښوونځي او روغتونونه نه دي جوړ شوي او همدارنګه له

مسجدونو هم ساتنه نه ده شوې. نو دا پیسې او مالیه چېرته ځي او چېرته ده دغه مالیه چې د یاد هېواد د خلکو په ساتنه کې ترې ګټه واخیستل شي؟

**د ابراهیم علیه سلام د هېواد خلکو!**

د وژنو ترسره کول، سوزول او ویجاړی رامنځته کول حرام او له تعصبه ډک عمل دی او عاملین یې باید پیدا کړي.

دغه کارونه خلاف عمل دی او د اختلافونو رامنځته کېدو ښودنه کوي. موږ دا خبره کوو او هر توری یې مانا کوو. نو په همدې اساس کورنیو ته خبرداری ورکوو چې دغه احساساتي کړنې نور اختلافونه هم راپورته کوي.
همدارنګه کورنیو ته وایو چې هغو مو نه درک کوي او ستاسو تر منځ کینه نوره هم ډېروي. هغوی داسې کسان دي چې له تاسو ګټه اخلي او د اختلافونو له امله مو ټوټې ټوټې کوي.

**اې د ابراهیم خلیل ښار خلکو!**

د اسلام د دښمنانو د پروژو پر وړاندې ستاسو قوي حالت دښمنان نور غوسه کوي، تاسو د تمیم وقف ساتلی، د روسیې د موخو په مقابل کې مو د هغه د برخو ساتنه کړې او همدارنګه مو د هغې د نفوذ مخه نیولې ده. تاسو پوتین تحریک کړی، یهودیان مو غوسه کړي او همدارنګه مو د فلسطین واکمني او د هغو دسیسې ښکاره کړي دي.

تاسو د خلکو او کارمندانو له ملاتړه برخمن یاست او د ټولنیز امنیت تګلارې په نوم د فلسطین د واکمنۍ له غلا کېدو څخه مو ساتنه کړې ده. تاسو د امریکا، اروپا او د هغوی د ناوړه یوځوالي عملیاتو او چټلو هوکړو پر وړاندې درېدلي یاست او هغه ته نه ویلي دي. لکه د (سیډاو) هوکړه.

ستاسو روښانه او قوي دريځ د فلسطين واکمني او د هغو تر شاه کسانو د دې ښار خلک تنګ کړي دي. نو پر همدغه اساس، له کورنيو ناوړه ګټه اخيستنه او فساد له مخکې پلان شوي وو. هغه تورې څېرې چې د ښار د پاشل کېدو لپاره کار کوي، د ښار د نسکورېدو په هڅه کې دي.

پر دې سربېره، تاسو په دې ښار کې د يهوديانو پر حرص پوهېږئ او ټول پر دې پوهېږي چې «شبک» اجنسي کې څه جرمونه روان دي، يعنې د عربو ښار چې په ۱۹۴۸ م کال کې اشغال شو. خو د شبک رييس څو ورځې وړاندې په رحم الله کې څه وکړل؟

**د خليل الرحمن له ښار او خلکو سره مينه:**

موږ له دې خوند اخلو چې تاسو د الله سبحانه وتعالی تقوا ولرئ او د الله سبحانه وتعالی دغه وينا درياده کړئ، چې فرمايي:

**(وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً)** [احزاب: ۵۸]

**ژباړه:** *او هغوی چې ايمان لرونکو نارينه او ښځينه وو ته د خپل کار ترسره کېدو زيان رسوي، د ښکاره ګناه مرتکب شوي دي.*

موږ تاسو ته د هغې ورځې په اړه خبرداری درکوو چې الله سبحانه وتعالی به زموږ سترګې او زړونه پټ کړي او الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(إِنَّهُ مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِماً فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى * وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِناً قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلَى)** [طحا: ۷۴-۴۵]

**ژباړه:** *هر څوک چې د الله سبحانه وتعالی په حضور کې حاضرېږي، د هغوی لپاره دوزخ دی، هلته نه مري او نه ژوند کوي. هر ايمان لرونکی کس د الله سبحانه وتعالی حضور ته حضورېږي چې نېک اعمال يې ترسره کړي وي، داسې کسان لوړې درجې لري.*

موږ تاسو له هغه څه څخه منع کوو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ترې منع کړي یاست:

**«لَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَاناً الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا» وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ «بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كُلُّ الْمُسْلِمِعَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ، وَمَالُهُ، وَعِرْضُهُ»**

**ژباړه:** *کینه مه کوئ او هغه د اختلافونو لوړېدو لپاره مه وړاندیز کوئ، بېزاري او دښمني مه کوئ. کله چې څوک په دې معامله کې بوخت وي، تاسو ځانونه مه ورسره بوختوئ او د وروڼو او خدمت کوونکو غوندې شئ. مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم کوئ او نه هغه ته سپکاوی کوي. تقوا همدا ده او درې ځلې یې ورته په سینه اشاره وکړه. دا د مسلمان لپاره ستر شر دی چې خپل مسلمان ورور سپک وګڼي. د یو مسلمان وینه، مال او عزت له خپل ایماني ورور سره خوندي دي.*

نو له الله سبحانه وتعالی وېدار شئ او د ناپوهۍ له بلنې څخه ډډه وکړئ. له الله سبحانه وتعالی ووېرېږئ او د الله سبحانه وتعالی بنده ګان او پخپلو کې وروڼه شئ. که په کوم څه کې دښمني او کینه وکړئ، نو د الله سبحانه وتعالی دغه وینا تاسو ته بسنه کوي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً**﴾ [نساء: ٥٩]

ژباړه: *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، د الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او اولوالامر اطاعت وکړئ. هر کله مو چې په کوم څه کې دښمني درلوده، د هغو په حل کې له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مرسته وغواړئ. که په الله سبحانه وتعالی او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، دغه کار ستاسو لپاره غوره او عاقبت یې بهتره دی.*

**اې د خلیل الرحمن ښار اوسېدونکو!**

ګوابښ ډېر دی او هغه اور چې د خورېدو په حال کې دی، ټولو ته رسېږي او خبرداری درکوو چې تاسو به د دغه اور وچ لرګي شئ.

اوسنۍ پېښه چې رامنځته کېږي، عادي نه ده. نو دښمنانو ته وخت مه ورکوئ او وړاندې تر دې چې اختلافات ډېر شي او وروسته د پښېمانۍ فرصت نه وي، پخپلو منځونو کې شته مسایل اصلاح کړئ. .

**په وروستیو کې:**

په هره پېښه کې د الله سبحانه وتعالی د قوانینو پلي کېدو لپاره بیه ورکوو. موږ دغه بیه له خپلو عزتونو، ماشومانو وژل کېدو، د ځمکې لاندې کېدو او د امنیت په له لاسه ورکولو سره پرې کوو. هغه قرباني چې زموږ پر مغز، زړه، عزت، نجونو او هلکانو برید پکې شامل وي. که پر موږ د الله سبحانه وتعالی احکام پلي شي، نه به مو وینه تویېږي، نه به مو پیسې او شتمني له منځه ځي، نه به مېرمنې او ماشومان ډارېږي او اړیکې به مو نه پرې کېږي.

نو هڅه وکړئ چې ستاسو په لاسونو د الله سبحانه وتعالی احکامو پلي کېدو ته زمینه برابره شي، څو هغه څه پایته ورسېږي چې پر تاسو تپل شوي او هغه وخت به تاسو د الله سبحانه وتعالی له لوري پر درکېدونکو بریاوو خوشحاله شئ.  الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾** [روم: ۴-۵]

ژباړه: *او پر هغه ورځ به مومنان پر خپله بریا خوښ شي. الله سبحانه وتعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي چې مرسته یې وغواړي او الله سبحانه وتعالی د ستر قدرت څښتن دی.*

اې الله سبحانه وتعالی! د مسلمانانو زړونه سره یوځای کړه، ستا له طرفه د هغوی تر منځ مینه ډېره کړه، بر هغوی رحم وکړه، ببښنه ورته وکړه، د تکبر له طرحو څخه يې وساته او له خپل ملاتړه يې برخمن کړه.

اې الله سبحانه وتعالی! هغه چا ته سزا ورکړه چې موږ ځوروي، زموږ پر وړاندې وسلې پورته کوي او زموږ پر عزت برید کوي. اې الله سبحانه وتعالی! ستا په قدرت او هغې دفاع سره چې ته له موږ سره مرسته کوې، موږ له زیان څخه وساته، څو ستا دین بیا پر پښو ودروو، ستا امر ته ښه راغلاست ووایو او د ظالمانو مخه ونیسو.

اې الله سبحانه وتعالی! د فلسطین اوسنۍ واکمنۍ ستاسو د دین پر وړاندې خیانت وکړ او ستا له بنده ګانو سره يې هم خیانت وکړ. نو ستا نصرت راپه برخه کړه او پخپل پاک روح او فریښتو له موږ سره مرسته وکړه. زموږ سینې پر هغه څه خوښې کړه چې خپل یارانو ته يې ورکوې. پر دښمنانو دې رحم مه کوه.

الحمدلله رب عالمین! ټول ثنا او صفت د الله سبحانه وتعالی دي.

**۱۴۴۳هـ.ق د ربیع اول ۱۵مه**

**۲۰۲۱ م کال د نومبر ۲۰مه**

**حزب التحریر ـ ولایه فلسطین**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**